AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر

۲۰۲۴/۰۹/۰۶

# د ازلیت جلوې

زه دي وينم چې د شهباز هره نغمو کې ته يې
په سُر او کيف کې د مطرب، او ترانو کې ته يې

په هره پاڼه د چمن کې دي، حکمت ليده شي
هم په ګلونو د ګلشن ،او په ورمو کې ته يې

په هره خوا کې دي خوري دي، د عظمت جلوې
د طبيعت هره ورشو، او منظرو کې ته يې

په هر يو بوټي د ګلشن کې ستا اسرار نغښتي
د بلبل په ترانو، او په سرودو کې ته يې

هلته چې د چا ورته فهم، او نظر نه رسی
په ټول جهان په کهکشان . او سيارو کې ته يې

جلوې دي پټي نه دي ، عارفانو له نظره
هر مکان هره چوپتيا،او خلوتو کې ته يې

ستا د بی شانه ازليت نښي ، په هر څه ښکاري
ته په زمان او په مکان کهکشانو کې ته يې

د معرفت په ليد چې  کله کړو، خپل ځان ته نظر
په سترګو وينو،چې د زړونو په ښارو کې ته يې


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ